مكتبة الهمّة

الدولة الإسلامية

التحاكم

الأحكام الوضعية..التشريعات الباطلة

وضعي احكامو او باطلو شريعتونو ته

فيصلي وړل

پښتو ژباړه

ALMUNASIR

فيصلې ورل

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدللّه رب العالمين والصلاة والسلام علي رسولنا الأمين وعلي أله وصحبه أجمعين، وبعد...

الله -سبحانه وتعالي- فرمايي:

{أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا} [نساء:60]

ژباړه: «ايا هغه دې نه دي ليدلي چې ګومان کوي په هغه څه يې ايمان راوړی دی چې پرتا نازل شوي اوله تا مخکې نازل شوي خوغواړي. چې طاغوت ته فيصله يوسي، حال دا چې ورته امرشوي چې په طاغوت باندې کفروکړي، او شيطان غواړي چې دوی ګمراه کړي په ګمراهی لرې له حق نه.»

شيخ سليمان بن سحمان -رحمه الله- وايي: "طاغوت په درې ډوله دی، د حکم او فيصلې طاغوت ،د عبادت طاغوت اود اطاعت او متابعت طاغوت".

الله -سبحانه وتعالی- فرمايي:

{أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ} [المائدة: 50]

ژباړه: «آيا دوی د جاهليت فيصلې غواړي په داسې حال کې چې ترالله به د باور لرونکولپاره څوک په حکم کولوکې غوره وي؟!»

امام ابن کثير -رحمه الله- په خپل تفسيرکې د الله تعالی د دې قول په تفسيرکې داسې وايي:

"الله سبحانه وتعالی په هغه چا رد کړی چې د الله د حکم نه وځي هغه چې هرخير پکې شامل دی او د هر شرنه منع کوونکی دی ،او واوړي بل هغه څه ته چې خلکو جوړ کړي دي له خپلونظرونو،خواهشاتو او اصطلاحاتو نه چې د الله -سبحانه وتعالی- له شريعت نه هيڅ دليل نلري. لکه څنګه چې د جاهليت په زمانه کې خلکو په هغه ګمراهيو اوجهالتونو فيصلې کولې چې دوي به خپله ځانونو ته له خپلو نظرياتو اوخواهشاتو څخه جوړ کړي ول، او يا لکه تاتاريانو چې د خپل پادشاه چنګيزخان نه په اخيستل شوي سياست فيصلې کولې، چنګيزخان تاتاريانوته د الياسق په نامه يو قانون وضع کړی وو، چې دغه الياسق

د مختلفو شریعتونو مجموعه وه چې د یهودیت اونصرانیت نه اخیستل شوې وو. دغه الیاسق د ده په زامنوکې شریعت ګرځیدلی ووچې پیروي به یې کیدله او په فیصله کولوکې به د الله په کتاب اود درسول الله -صلی الله علیه وسلم- په سنتو باندې به لومړی توب ورکول کېده، چا چې دا کاروکړو هغه کافر دی او له هغه سره جنګ کول واجب دي، ترهغه چی په هره وړه اولویه معامله کی د الله او د هغه د رسول -صلی الله علیه وسلم- فیصلې ته را وګرځي.اوپه هیڅ معامله کې په بل څه فیصله ونه کړي".[تفسیر ابن کثیر].

اوهمدا راز په عمدة التفسیر کې راغلي دي: "آیا د الله په شریعت کې دا روا ده چې مسلمانان په خپلو ښارونو کې په هغه قوانینو چې دبت پالې او ملحدې اروپا له قوانینو اخیستل شوي وي فیصلې وکړي؟ بلکې په هغه شریعت باندې چې په هغه کې خواهشات او باطلې رایې داخلې کړل شوې وي او چې څنګه وغواړي هغسې تغیر او تبدیل پکې راولي،دا پکې کومه مهمه خبره نه وي چې د دې قوانینو جوړونکی د شریعت پکې موافقت کوي اوکه نه مخالفت یې کوي؟!

بیشکه چې مسلمانان – ترکومه چې مونږ ددوی د تاریخ نه پوهیږو- پداسې څه باندې نه وو ازمویل شوي مګر د تاتاریانو په وخت کې هغه عهد اوزمانه چې په ظلم او تیارو کې ترټولو بدترینه زمانه وه خو ددې سره بیا هم دوی دې ته غاړه کینښوده، بلکې اسلام په تاتاریانو غالب شو، بیا دوی دا اسلام هم په خپل شریعت او قانون کې ورد ننه اوګډ کړ، او د دوی د هغه جوړ کړل شوی څیز اثر هم د مسلمانانو په خپل دین او شریعت باندې ثبات او میرانې له امله له منځه لاړ، سره له دې چې دغه بد حکم چې بنیاد یې حاکمې ډلې ایښی وو،خو ددې سره بیا هم د محکوم اسلامي امت له کسانو څخه هیڅوک پکې ذوب اوداخل نه کړای شول، نه یې خپله زده کړو اونه یې خپلو بچیانوته ور زده کړ،نو څومره ژر یې اثر ختم شو؟

آیا په اتمه پیړی کې مو د حافظ ابن کثیر دغه قوي بیان د هغه وضعي قانون په هکله ولیده چې داسلام دښمن چنګیزخان جوړ کړی وو؟ آیا تاسو نه وینئ چې په څوارلسمه پیړۍ کې یې د مسلمانانو حال بیان کړی؟ مګر یو فرق پکې شته چې مونږ اوس ورته اشاره کوو هغه دا چې: تاتاریان یوه خاصه حاکمه طبقه وه چې ډیر ژر په اسلامي امت کې ذوب شول، او د هغه جوړ کړي (قانون) اثر یې لاړو، خو اوس د مسلمانانو حالت له هغوی نه هم ډیربد دی اوپه ډیر ظلم اوتیارو کې دي، ځکه چې ډیری اسلامي امت اوس نږدې ده چې په دغو د شریعت مخالفو قوانینو کې ذوب شي ،هغه قوانین چې د (الیاسق) سره یو شان دي چې یو ښکاره کافر جوړ کړی وو.

دا قوانین چې اسلام ته منسوبو خلکو جوړکړي دي، او بيا يې د مسلمانانو اولادونو ته ور زده کوي اوږلرونه او اولادونه پرې فخر کوي، خپل مسايل او کارونه دغه پخپل لاس جوړ کړل شوي (د وخت الياسق) ته راجع کوي او دهغه چا سپکاوی کوي چې په دغه کارکې د دوی مخالفت کوي، اوهغه څوک چې دوی ته دعوت ورکوي چې پخپل دين اوشريعت منګولې ولګوئ دوی ورته (وروسته پاتې) او (جامد) او داسې نورو بدو نومونو سره نوموي. برسيره پردې دوی د شريعت هغه پاتې احکامو کې هم لاس وهل کوي او غواړي چې خپل نوی الياسق ته يې واړوي، کله د خپلو خواهشاتو او نرمی سره او کله په دوکه او چلونو سره او کله يې بيا د خپل زور او دبدبې په مټ بدلوي.

دوی په پوره صراحت او بې شرمی سره ددې دپاره کارکوي چې دين له دولت څخه جلا کوکړي! آيا -ددې سره- بيا هم يوه مسلمان ته دا روا ده چې د دغه نوي دين او شريعت تابعداري وکړي؟ او آيا يوه پلار ته روا ده چې خپل اولاد د دې زده کړې ته وليږي، ترڅو د دې نوي دين تابعداري وکړي، او باور اوعقيده پرې ولري او عمل پرې وکړي؟ دغه پلارکه عالم وي که جاهل؟! او آيا يو مسلمان ته روا ده چې د وخت د (الياسق) سيوري ته فيصله يوسي اوپه دغه (الياسق) عمل وکړي، او له ښکاره شريعت نه مخ وګرځوي؟ زه په هغه مسلمان ګمان نه کوم چې خپل دين پيژني او پرې تفصيلي او اجمالي ايمان لري، او په دې ايمان لري چې دغه قرآن چې محکم کتاب دی اوله هيڅ لوري باطل ورته راتګ نه شي کولای الله سبحانه وتعالی په خپل رسول -صلی الله عليه وسلم- نازل کړی، او په دې ايمان ولري چې د الله -سبحانه وتعالي- اطاعت او دهغه درسول -صلي الله عليه وسلم- اطاعت په هغه څه کې چې راوړي يې دي ،په هرحال کې قطعي واجب دي، بيا هم فيصله د دغه عصر (الياسق) ته يوسي،ګمان نه کوم چې بغيرله دې چې په پوره وضاحت سره بغيرله شک او شبهې او کوم تأويل څخه به دا خبره وکړي چې پداسې حال کې فيصله کړل په داسې باطل والي سره باطله ده چې اصل يې هم باطل وي، نه يې تصحيح صحيح ده اونه اجازت .

د دغه وضعي قوانينو حکم د لمر په شان ښکاره دی؛ چې ښکاره کفر دی. نه پکې پټوالی شته اونه د چا لحاظ اوهغه څوک چې اسلام ته منسوب دي هغوی ته هيڅ عذر نشته په دې قوانيو باندې د عمل کولو، يا په منلو، اويا دې قوانينو ته په غاړه ايښودلو کې اويا په دې قوانينو باندې اقرار باندې - هغه که هرڅوک وي- هرچاته لازمه ده چې ځان وساتي او هرچا سره به دده د خپل ځان محاسبه کيدای شي".

امام شوکاني -رحمه الله- وايي: "دوی -[دده په زمانه کې د يمن بعضې خلک]- فيصلې کوي او فيصلې وړي هغه چاته چې دوی په ټولو چارو کې طاغوتي حکمونه او فيصلې پيژني چې هغه د شرعي احکامو په ځای

دوی تعین کړی اوورته وړاندې کړي بې دي... په دې کې هيڅ شک نشته چې دا په الله -سبحانه وتعالی- او دده په هغه شريعت باندې چې د خپل رسول -صلی الله عليه وسلم- په ژبه يې را ليږلی کفردی، بلکې دا په ټولو شريعتونو باندې کفردی هغه چې د ادم -عليه السلام- نه نيولې تر اوسه پورې الله تعالی څومره راليږلي.

دوی سره جهاد واجب او جنګ کول لازم دي تردې چې د اسلام احکام ومني، هغه ته غاړه کيږدي اوپه خپل منځ کې په سپيڅلي شريعت فيصلې وکړي اوله ټولو شيطاني اوطاغوتي کارونو څخه چې پکې واقع دي راووځي...په اسلامي قواعدوکې دا خبره ثابته ده چې څوک د قطعي حکم څخه منکراويا د هغه څخه دعلم سره مخ اړونکی اويا دا چې د سرکشی ، حلال ګڼلو او سپک ښکاره کيدلو له وجې د هغه خلاف کوي نو دا په الله او دده په سپيڅلي شريعت باندې کافردی کوم چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو دپاره غوره کړی...اوپه دې کې هيڅ شک او شبهه نه شته چې د دوی دغه لوی کارونه ، د کفرله لويو اسبابو او لوازمو څخه دي چې له کوونکي څخه يې ايمان باسي، او په هرفرد د مسلمانانو باندې د دې کارونو څخه انکارکول لازمي دي اوپه هرقادراوځواکمن باندې له دې شان خلکوسره قتال واجب دی تردې چې بيرته د اسلام دين ته را وګرځي" [الدواء العاجل في دفع العدو الصائل].

شيخ سليمان بن سحمان -رحمه الله تعالي- وايي :" کله چې په دې پوه شوې چې فيصله وړل طاغوت ته کفردی، نو يقيناً الله -سبحانه وتعالي- په خپل کتاب کې فرمايلي چې کفرله قتل نه لويه ګناه ده ،الله سبحانه وتعالي فرمايي: {وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ}،ژباړه:[اوفتنه له قتل څخه لويه ده]، او فرمايي:{وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ} ژباړه:[او فتنه له قتل نه سخته ده] او فتنه کفردی، که چيرته د يوې دښتې او ښارټول وګړی قتل شي تردې چې هرڅه له منځه ولاړشي، دا به تردې ډېرسپک او آسانه وي چې يو طاغوت په ځمکه کې واکمن وي او د هغه شريعت پرخلاف فيصلې کوي چې الله -سبحانه وتعالي- خپل رسول -صلي الله عليه وسلم- پرې راليږلی دی ...که چيرته ستا ټوله دنيا ولاړه شي، نو تا ته دا نده روا چې د هغې لپاره د طاغوت محکمې ته ولاړشې، که چيرته دې يو څوک مجبور کړي او تا ته اختيار درکړي چې يا د طاغوت محکمې ته ولاړشه اويا دې ټول دنيايي شته درځنې ولاړشي نوپه تاباندې واجبه ده چې دنيايي شته دې برباد کړې، خو نه دا چې طاغوتي محکمې ته ولاړشې" [الدررالسنية].

والحمدلله رب العلمين

❁ ❁ ❁

مؤسسة المناصر الإعلامية

رجب 1439 هـ

شیخ سلیمان بن سحمان -رحمه الله تعالي- وايي :

" کله چې په دې پوه شوې چې فیصله ورل طاغوت ته کفر دی، نو یقیناً الله -سبحانه وتعالي- په خپل کتاب کې فرمایلي چې کفر له قتل نه لویه ګناه ده ،الله سبحانه وتعالي فرمایي: {وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ}،ژباړه:[اوفتنه له قتل څخه لویه ده]، او فرمایي:{وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ} ژباړه:[او فتنه له قتل نه سخته ده] او فتنه کفر دی، که چیرته د یوې دښتې او ښار ټول وګړی قتل شي تر دې چې هرڅه له منځه ولاړ شي، دا به تر دې ډېر سپک او آسانه وي چې یو طاغوت په ځمکه کې واکمن وي او د هغه شریعت پر خلاف فیصلې کوي چې الله -سبحانه وتعالي- خپل رسول -صلي الله علیه وسلم- پرې رالیږلی دی ...که چیرته ستا ټوله دنیا ولاړه شي، نو تا ته دا نده روا چې د هغې لپاره د طاغوت محکمې ته ولاړ شې، که چیرته دې یو څوک مجبور کړي او تا ته اختیار درکړي چې یا د طاغوت محکمې ته ولاړ شه او یا دې ټول دنیایي شته درځنې ولاړ شي نو په تاباندې واجبه ده چې دنیایي شته دې برباد کړې، خو نه دا چې طاغوتي محکمې ته ولاړ شې" [الدررالسنیة].